# د افغانستان اقتصادي پرمختګ

(خبرپاڼه)

ګڼه: ۹

نېټه: ۱۴۰۳/۱۱/۱۸



د افغانستان د اقتصادي پرمختګ (خبرپاڼه) د افغانستان تر ټولو مهم او وروستي اقتصادي پرمختګونه منعکسوي.

د دې خبر پاڼې په لوستلو سره چې په دريو ژبو (پښتو، دري، انګليسي) چمتو او خپرېږي، تاسو کولی شئ د افغانستان د وروستيو اقتصادي پرمختګونو څخه خبر شئ.

## په دې ګڼه کې لولئ:

۱- د کندهار شوراندام سيمنټو فابريکه په نږدې راتلونکي کې ګټې اخيستنې ته سپارل کېږي

۲- پکتيکا کې د پلتوني بند چارې شل سلنه مخکې تللې

۳- د کمال خان بند دريم فاز ګټې اخيستنې ته وسپارل شو

# د کندهار شوراندام سیمنټو فابریکه په نږدې راتلونکي کې ګټې اخیستنې ته سپارل کېږي



د کندهار ولایت ځایي مسوولینو ویلي چې د یاد ولایت د شوراندام د سیمنټو فابریکه به په نږدې راتلونکي کې ګټې اخیستنې ته وسپارل شي.

دغه فابریکه چې د کندهار صنعتي ښارګوټي کې د سیمنټو معدن ته نږدې موقعیت لري، تر اوسه یې ۹۵ سلنه چارې بشپړې شوې او د فني وسایلو له نصبولو وروسته به په کې د سیمنټو تولید پیل شي.

دغه فابریکه د شاوخوا اته میلیارد افغانیو په لګښت په لسګونه جریبه ځمکه کې جوړېږي چې لومړیو کې به د ورځې ۱۵۰۰ ټنه سیمنټ تولید کړي او وروسته به دغه کچه شاوخوا ۳۵۰۰ ټنو ته ورسېږي. یاده فابریکه کې به ۲۰۰۰ تنو ته په مستقیم او غیر مستقیم ډول د کار زمینه برابره شي.

تېره اوونۍ د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د دغې فابریکې له کاري بهیر څخه لیدنه کړې وه. محترم ملا صاحب له ترسره شویو کارونو خوښي څرګنده او په ټاکلي وخت یې د کار د بشپړېدو په هکله لازمي لارښوونې کړې وې.

افغانستان تر ځمکې لاندې ډېر ناایستل شوي معدنونه لري. د دغو معدنونو ایستل او ترې سالمه ګټه اخیستل د افغانستان د اقتصادي ودې او ځان بسیاینې له پاره ډېر مهم دي.

اسلامي امارت په بېلابېلو برخو کې د افغانستان د اقتصادي ودې او د ځان بسیاینې په لور مهم ګامونه اخیستي دي چې یو یې د سیمنټو د تولید برخه ده. اسلامي امارت هڅه کوي څو د سیمنټو په برخه کې په وارداتو د افغانستان تکیه راکمه کړي او افغانستان پر ځان بسیا شي.

د همدې موخې له پاره اسلامي امارت د جبل السراج او غوري سیمنټو فابریکو کې د سیمنټو تولید کچې لوړوالي ته پوره پاملرنه کړې. دغه راز، موده وړاندې یې د جوزجان د یتیم تاق او د لوګر د سیمنټو تولیدي فابریکو قراردادونه له افغان او بهرنیو شرکتونو سره لاسلیک کړل.

# پکتیکا کې د پلټوني بند چارې شل سلنه مخکې تللې دي



د اسلامي امارت مسوولین وایي، په پکتیکا کې د پلټوني بند د جوړولو چارې شل سلنه بشپړې شوې دي.

دا په پکتیکا کې د ځمکې خړوبولو مهمه پروژه ده چې ۲۵۰۰ هکتاره ځمکه خړوبوي او تر څنګ یې شاوخوا یو مېګاواټ برېښنا هم تولیدوي. دا بند په کلنۍ ډول د ۱۰۷ میلیونه متر مکعب اوبو ذخیره کولو وړتیا لري. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۳ کال د زمري په ۲۹مه نېټه پکتیکا ته په خپل

سفر کې د دغه بند د چارو پرانیسته کړې وه.

محترم ملا صاحب هغه مهال ویلي و، اسلامي امارت درک کړې چې د پیاوړي اقتصاد له پاره کرنه او د کرنې د پرمختګ له پاره اوبه ډېرې مهمې دي او اسلامي امارت د اوبو مدیریت په خپلو لومړیتوبونو کې نیولې دی.

محترم ملا صاحب زیاته کړې وه، اسلامي امارت د لویو او متوسطو بندونو د جوړولو له پاره جامع کاري پلانونه جوړ کړي دي.

د پلتوني بند جوړېدل په یاد ولایت کې د اوبو د زېرمه کولو او کرنې پراختیا له پاره ډېر مهم دی. دغه بند په پکتیکا کې د کاري فرصتونو په ایجاد کې هم مهم رول لوبوي.

پلتوني بند د پکتیکا مرکز شرنې ته نږدې موقعیت لري. د یاد بند چارې د اسلامي امارت له بودیجې تمویلېږي او ټول پرې شاوخوا ۸۵۰ میلیونه افغانۍ لګښت کېږي.

د یادونې وړ ده چې د هېواد د اوبو د مدیریت او له خپلو اوبو څخه د سالمې ګټې اخیستنې په موخه ګڼې پروژې تر کار لاندې دي.

# د کمال خان بند درېیم فاز ګټې اخیستنې ته وسپارل شو

د اسلامي امارت د لوړ پوړو مسوولینو په حضور کې په نیمروز ولایت کې د کمال خان بند درېیم فاز ګټې اخیستنې ته وسپارل شو.

کمال خان بند چې د نیمروز ولایت په چهاربرجک ولسوالۍ کې د هلمند سیند په اوبو جوړ دی، د هېواد د اوبو د مدیریت په برخه کې مهمه پروژه ده چې د هېواد د کرنیز پرمختګ او انرژۍ تولید کې مهم رول لوبوي.

د ریاست الوزراء د اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ اقتصادي کمېسیون کې د یاد بند پاتې چارو بشپړول منظور شوي و او اړوندو وزارتونو ته لارښوونه شوې وه چې د یاد بند د جوړولو چارې ګړندۍ کړي.

د اسلامي امارت مسوولینو د هڅو په پایله کې د کمال خان بند د درېیم فاز چارې بشپړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې.

د کمال خان بند ۵۲ میلیون متره مکعب اوبه ذخیره کوي او شاوخوا نهه مېګاواټه برېښنا تولیدوي. دغه راز، کمال خان بند ۱۷۴ زره هکتاره کرنیزه ځمکه هم خړوبوي.

